# د چاپي او دیجیتالي(بریښنایی)

# معلوماتو د زېرمې ارزونه

Ketabton.com

د نورو کتابونو لپاره: http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چاپي او ديجيتالي(بريښنايي ) معلوماتو د زيرمې ارزونه:

د انټرنټ په شبکې کښې د ټولې نړۍ څخه ډېر زيات معلومات موجود دي. د دې لپاره چې په انټرنټ کښې معلومات ډېر آسان او په پريمانه توګه ترلاسه کيږي نو کيدای شې نوموړي معلومات په مناسب ډول ښه پيژندل شوي نه وي نو دا ډيره ضروری ده چې مهارتونه وروزل شي تر څو د موندل شويو معلوماتو ارزونه وکړي.

کله چې تاسی غواړئ د يوې څيړنيزې زيرمې او يا علمي کتابتون څخه کار واخلئ نو کتابونه، ورځپاڼې او نورې چاپي زيرمې مخ تر مخه د محققانو ، ناشرانو او دکتابدارانو لخوا ارزول شوي دي. ټول چاپي زيرمې مخ تر دې نه چې تاسی ورته لاس رسي ومومئ په مختلفو ډولونو ارزونه کيږي.

کله چې تاسی د انټرنټی زيرمې څخه کار اخلئ د پورتنې يادونې څخه هيڅ يو ورسره سمون نه لري. په انټرنټ کښې د معلوماتو د ارزونې لپاره هيڅ فلتر موجود نه دئ ځکه چې هر څوک کولای شي يوه ويب پاڼه وليکي چې د دې ويب پاڼې موضوع ګاڼې ډيربې کيفيته او د يو نا پيژندل شوي ليکوال په قلم ليکل شوي دي.غوره شوې زيرمې د ډيرو شکونو او انتقادونو سره يوځای دي.

دا موضوع د هغه معيارونو په هکله غږيږي چې پوهاند په ډيرو برخو کښې د چاپ شوی معلومات ارزونه کوي او دا موضوع ښئي چې څومره د نوموړو معيارونو څخه د انټرنټی معلوماتو د ارزونې لپاره کار اخيستل شو.

د پام وړ اصلي ټکې:

- ليکوال/ مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

- مطبعه/ناشر
- شخصی نظریې یا پلوي کول
- مأخذ/زیرمې
- تائید او باوري کول
- عمومی منښت(د یوې موضوع چلند او یا رواج په اوسنی مهال کښې)

لیکوالي/تألیف:- لیکوالي ښایی چې تر ټولو معیارونو څخه اساسی معیار وي چې د معلوماتو د ارزونې لپاره کارول کیږې او څرګندوي چې دا معلومات د چا په قلم لیکلی شوي دي؟

کله چې مونږ د یو داسي معلوماتو پسې ګرځو چې ځیني ارزښتناکه معیارونه په کښې شته، مونږ باید چې د نوموړې معلومات د اساسی هدفونو او صلاحیتونو په اړه پوه شو چې لیکوال په هکله یی غریږیدلي دی.

کله چې تاسې تصمیم ونیول چې معلوماتو څخه کار واخلئ دلته ځیني پوښتنې شته چې باید د لیکوال د خپلواکې په اړه وپوښتل شي.

- آیا لیکوال ښه پیژندل شوی او ستاسې د ځانګړي موضوع په هکله ښه پوهیږي؟
- آیا نوموړی لیکوال د نورو لیکوالانو او یا د یو بل مطمئن شخص لخوا چې ستاسو د منلو وړ وي مثبت ارزونه شوی دئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- آیا دا ویب پاڼې او یا انټرنټي سندونه چې تاسی یې لولئ د لیکوال د بیوګرافی په هکله معلومات ورکوي (چې په نوموړی بیوګرافی کښې د لیکوال موقیعت او په موسسه کښې دده د وظیفې او پته ټول شامل وي ؟ )
- آیا تاسې کولای شئ چې دلیکوال د اعتبار په اړه څرګندونې وړاندي کړئ؟

مطبعه او یا دچاپ موسسه: نوموړې موسسې هم دهر ډول سندونو په ارزونه کښې له تاسو سره مرسته کوي. د چاپي زیرمې په برخه کښې دا په دې معنا ده چې په عمومي توګه د لیکوال منوسکریپت (لاسی نسخه) ددې لپاره ښودل شوی دئ چې تائید شې نوموړی لیک د مطبعې د ټولو ستندردونو او هدفونو سره سمون لري ، په دې استندردونو کښې کیدای شي یوازې د منوسکریپت بیا کتنه شامل وي.

د انټرنټ زیرمې په برخه کښې باید لاندیني پوښتنې د مطبعې د دندې او صلاحیتونو د ارزونې لپاره وپوښتل شي په دې معنا چې د اصلي کمپیوټر (سیرور ) څخه چې هلته سندونه په کښې ساتل کیږي پوښتنه وشي:

- آیا هغه سند چې تاسی یې لولئ پکښې د کومې موسسې نوم یادونه شوې ده؟
- آیا د نوموړی سند څخه کولای شئ چې د ویب ماستر (سایت جوړونکی ) سره اړیکي ونیسئ؟
- که ددې امکان نه وې چې د سایت د ویب ماستر سره اړیکي ونیسئ ، آیا تاسي کولای شئ چې هغه پاڼې ته ولاړشئ چې د مطبعې معلومات په کښې لیکل شوي دي؟
- آیا نوموړي پاڼه یوښان برینښنایی پته (یو-آر - ال ) لري؟
- آیا نوموړی موسسه د هغې خیړنې په برخه کښې چې تاسی یې لولئ پیژندل شوې ده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- آیا نوموړي موسسه ستاسو ټاکل شوې موضوع سره سمون لري؟
- آیا تاسي کولای شئ دلیکوال اړیکې د موسسې او یا د مطبعې سره څرګند کړئ؟
- تاسې کومه موضوع مو چې لوستلې ده، آیا د لیکوال د مسلکي دندې یوه برخه ده (سر بیره پردې چې دده د تخصصي ساحې پوري اړه لري) یا یو عادي او آزاده مفکوره ده چې په یوه موسسه کښې د یو لیکوال د اعتبار په هکله هیڅ نه وایی؟

که نوموړي ویب پاڼه ددې پر ځای چې دیو رسمی سایت یوه څانګه وي په انفرادی او شخصي ډول اداره شي نو تاسې دا ډول معلوماتو ته په ډیر پام سره نږدې شئ.

شخصی نظریه یا پلوي کول: دا مطلب مونږ ته را په یادوي چې موندل شوي معلومات ډیر لږ طبیعي دي ځکه چې د لومړنیو معلوماتو څخه په ډیر غور سره دیو خاص مقصد د جوړولو لپاره کار اخیستل شوی دئ چې په عمومي ډول دا خپله د پلوي کولو استازیتوب کوي.

هر لیکوال غواړي چې خپل مقصد ښه ثابت کړي او د هغه لومړنیو معلوماتو څخه دخپل هدف دپیاوړی کولو په موخه کار اخلي.

هرکله چې تاسې د انترنت څخه د موندل شویو معلوماتو ارزونه کوئ دا ډیره مهمه ده چې څرګنده شې نوموړي معلومات دچا لخوا جوړشوي او د لیکوال شخصی نظریه څه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيری انترنتی شبکې د تجارتی اعلانونو او تولنيزو سياسي مطبوعاتو لپاره ښه مناسبې زيرمې دي ، دا شبکې په ځانګړي توګه ددې لپاره خلاص شوې دي چې د لومړنيو معلوماتو د کارولو سره يو خاص هدف په لوړه کچه تشريح کړي.

لاندينې مرحلې د شخصی نظرونو د ارزونې لپاره دي ، دا مرحلې ځرګندوي چې ليکل شوی موضوع د ليکوالي د معيارونو پر بنسټ ده که د پلوي کولو پر بنسټ:

- لومړی د ويب پاڼې پته ځانته وليکئ چې سند پکښې موجود دئ. بيا وګورئ چې آيا نومورې سند د يوې موسسې د ويب پاڼې په اصلی کمپيوټر کښې موقيعت لري چې د يوې ستونزې د رامينځ ته کيدو پر وخت يو ښه تضمين وړاندې کړي؟
- که تاسې د يوې همکارې موسسې په ويب پاڼې کښې د يوې موضوع پسې ګرځئ نو معلومداره دا ځرګندونې په نومورې ويب پاڼه کښې په ډير مثبت ډول ښودل کيږي.
- که تاسې د يوه سياسي حزب په هکله د يو بل سياسي حزب په ويب پاڼه کې ځرګندونې لولئ نو تاسې يو مخالف نظر لولئ.
- آيا نومورې سندونه د يو داسي موسسې په ويب پاڼه کښې ځای پر ځای شوي دي چې سياسي او فلسفي اجنداوي لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د خپل ځان څخه پوښتنه وکړئ: که زه د یوې ساینسي موضوع پسې ګرځم چې د انسانانو د جنیتک په هکله ده، نو زه څنګه پر نوموړي معلوماتو باندي باور کړم چې په یوه سیاسي ویب پاڼې کښې خپاره شوي دي؟

د څیړنې او تحقیقاتو ډیری برخې د مباحثوي پوښتنې سره یو ځای دي او ډیرځلي زیاتې مباحثې د موضوع په هکله د موضوع نه هم ډیر جالب کیږي. کله چې تاسې د یوه مطلب پسې ګرځئ، دا ډیره مهمه ده او باید تل ورته ښه پام ونیسئ چې هر شخص د خپل ځان نه یوه بیله مفکوره لري ځکه د انترنت جوړښت تل هر چا ته اجازه ورکوي چې خپل لیکل شوي معلومات په کښې کښیږدي. په انترنت کښې د راز راز مفکورې شتون له یوې خوا او د بلې خوا د پلوي کولو امکان په ډیره پراخه کچه شته.

زیرمې او د ادبیاتو پوهیدل:-دا موضوع هغه متن پوري اړه لري چې لیکوال خپل اثر په کښې ځای ورکړی دئ. دا ښئی چې لیکوال څومره د خپلو قواعدو او د متن د تمریناتو سره هر اړخیزه پیژندګلوی لري.

دا مطلب تاسو ته اجازه ورکوي چې د لیکوال د پوهې او مطالعې ارزونه وکړئ او د هغه موضوع په هکله چې تر بحث لاندي ده، دده د پلوي کولو مخه څرګند کړئ .

لاندني معیارونه د معلوماتو د ټولو ډولونو د تصفیې او فلتر کولو لپاره کاریږي:

- په سند کښې د لیکونو لست(فهرست) او نیټه شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- لیکوال هغه زیرمې ته اشاره کوي چې موضوع پورې اړه لري او یا هم په واضح توګه د نومورې زیرمې ثخه یادونه کړې ده.
- لیکوال نظري علوم، فکري ښوونځي او یا داسې تګلارې وړاندې کوي چې معمولآ دده/ددې د مضمون د اصلاح کولو لپاره ښه ګڼل کیږي.
- که لیکوال د یوې نوې تګلارې ثخه د ثیړنې د بنسټ په توګه کار اخلي نو موړې ددې نوې میتود د ارزښتونو او محدودیتونو په هکله بحث کوي.
- که لیکوال یو مضمون په مباحثوي ډول اصلاح کوي، نوموړي دا خبره پوهیږي او هغه تائیدوي.

د تشریحاتو صحیحتوب او تائید:.دا موضوع د ارزونې د پروسې لپاره یوه مهمه برخه ده په ځانګړې توګه کله چې تاسې د یوه ناپیژندل شوی لیکوال اثر لولئ چې د یوې نامعلومې موسسې لخواه خپره شوې ده او یا نوموړې اثر په دودیز ډول وړاندې شوې نه دئ.

لاندیني معیارونه د تشریحاتو د صحیحتوب د ارزونې لپاره کارول کیږي:

- په یو تحقیقی سند کښې: هغه سوابق چې را ټول شوي، یوه څرګندونه د کارول شوې میتود په هکله او ژباړنه ټول شامل دي.
- هغه میتودولوژی چې په سند کښې مطرح شوی دئ د موضوع سره سمون لري او ثیړنې ته اجازه ورکوي چې د تائید او تصدیق لپاره د متن یوه نوې نسخه کاپي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- سند پر هغه زیرمې باندې تکیه کوي چې په فهرست کښې ځیني نومونه اخیستل شوي دي او یا هم هغه لینکونه چې په خپله د سندونو اصلي منابع ښئی، دا ټول په سند کښې شامل دي.
- سند په ځانګړې توګه د هغه اشخاصو او زیرمې څخه نوم اخلي چې نه خپره شوي معلومات یې برابر کړي، چې د څیړنې د تیاری په وخت کښې ځینې کارا خیستل شوي.
- پخوانی معلومات څخه چې کار اخیستل شوي و، کولای شي د سند صحیحتوب تائید کړي.

عمومي منښت: دا مطلب د معلوماتو تاریخی وړوالی پوري اړه لري. په چاپ شویو معلوماتو کښې د چاپ نیټه او تاریخ د عمومي منښت لومړنی اصل دئ.

د ځینو معلوماتو لپاره عمومي منښت هیڅ مهم نه دئ بلکه لیکوالي او یا په تاریخی ریکارډونو کښې د سند مقام ډیر مهمه ګڼل کیږي (لکه د یو شعر ادبی نقد ).

سره له دې د معلوماتو دډیرو نورو ډولونو لپاره عمومي منښت بی حده مهم دئ ځکه چې دمعلوماتو د نوې کولو او بیا کتنې لپاره دا یوه قاعده ده.

د عمومی منښت د تعیینولو لپاره لاندیني معیارونه ضروري دي:

- په سند کښې تاریخ یا نیټه شامل دئ چې څرګندوي معلومات په هغه وخت کښې موجود و .
- نوموړی سند سپیڅلي لرغونو معلوماتو ته نسبت ورکول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هر کله چې د یوې ټاکلی مقصد لپاره د نیټې اضافه کول او یا د معلوماتو بیا چاپولو ته اړتیا وي نو په سند کښې هغه معلومات چې د سند دبیا تازه کولو لپاره کاریږي شامل دي.
- په سند کښې د چاپ تاریخ او یا د وروستی بیا کتنې نیټه موجود ده.
- په سند کښې د کاپی رایت (د کاپي کولو حق) نیټه شته.

که په یو بریښنایی سند کښې د نیټې یادونه نه وي شوي نو تاسي کولای شئ هغه ځای ته چې سند موقیعت لري لارښوونکې (دایریکتوري) خلاصه کړئ او دسند د وروستې بدلونونو نیټه وګورئ.

ټول چاپي او بریښنایی سندونه باید د لوستونکې په ذریعه د اعتبار، صحیحتوب او نورو ارزښتناکه شخصی معیارونو لپاره وارزول شي.

که تاسو داسي معلومات موندلی (چې واقعاً صحیح دي) نو هرو مرو نومړي معلومات صحت لري.

هیڅ وخت د داسي معلوماتو څخه کار وا نه خلئ چې تاسې د هغه صحیحتوب نه شئ تائیدولای.

ددې لپاره چې تاسې د معلوماتو ټولو ډولونو ته یو ښه منتقد کار اخیستونکې وشئ د معیارونو جوړول او زده کول د هغه معلوماتو د تصفییې لپاره چې تاسې په انترنیتی کښې پیدا کوئ یو ښه پیل دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زيرمې په هکله څېړنه وکړئ او د نورو زيرمې پلټنه وکړئ چې وکولای شې د هغه معلومات اصليت او صحيحتوب ثابت کړي چې تاسې موندلي دي. لومړی هڅه وکړئ چې پر ټولو معلوماتو باندي شکمن واوسئ بيا د خپل زړه خبرې ومنئ.

دا موضوع د جان هاپکينز د پوهنتون د ويب پاڼې له کتابتون څخه اخيستل شوی ده.

(http://www.library.jhu.edu/researchhelp/general/evaluating/ )

د نورو کتابونو لپاره: http://www.ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**